نبوي مرغلري:

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:

ژباړه: څوک چې د قربانۍ وس ولري او قرباني و نه کړي، نو زمور عیدګاه ته دي نه را نژدې کېږي!

«رواه سنن ابن ماجه»

طلوع افغان

پښې ویناوي:

حضرت علي کرم الله وجهه:

د چاچې شر ډېر وي، ملګري يې هم ځني خوندي نه وي.

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک" د امتیاز خښتن: د کندهار اطلاعات او فرهنګ ریاست په اوونۍ کې دوه واره چاپېږي

د تأسیس کال: ۱۳۰۰ لمریز، پنجشنبه ۴/ذوالحجة الحرام/۱۴۴۷هـ ق، ۳۱/غویی/ ۱۴۰۵ل کال - ګڼه (۱۲) Thursday-21-May-2026 Issue: 12

جورجټ ګانیون له افغانستان سره د نړۍ والي ټولنې د لازیات تعامل او په بېلابېلو برخو کې پر همکارۍ ټینګار کړی دی

د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت، د سرپرستي او سیاسي څانګې له مشري جورجټ ګانیون سره کتلي دي.

یاد وزارت په یوه خبرپاڼه کې څرګنده کړې، چې په دې کتنه کې د افغانستان په اړه، د ملګرو ملتونو امنیت شورا راتلونکي ناستې او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه خبرې سوې دي.

د هیواد د بهرنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې څرګنده کړې: «د بهرنیو چارو وزارت په سیمه کې د تاوتریخوالي د زیاتېدو له املې خپلې ژوره اندېښنه څرګندوي او په دې لړ کې، د متحده عربي اماراتو پر ملکي تأسیساتو، په ځانګړي ډول، پر براکه اټومي انرژۍ بټۍ، د بې پیلوټه الوتکو وروستي بریدونه غندي.»

یاد وزارت همدارنګه له ټولو بنکېلو لورو غوښتنه کړې، چې د زغم او احتیاط څخه کار واخلي، د نړۍ والو اصولو او مسئولیتونو درناوی وکړي او د تاوتریخوالي له لازیاتېدو ډډه وکړي، ځوروانې شخړې د خبرو او سوله ییزو لارو هواري سي.

اسلامي امارت د بې پیلوټه الوتکو وروستي بریدونه وغندل

د افغانستان اسلامي امارت د متحده عربي اماراتو پر ملکي تأسیساتو د بې پیلوټه الوتکو وروستي بریدونه غندلي دي.

د هیواد د بهرنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې څرګنده کړې: «د بهرنیو چارو وزارت په سیمه کې د تاوتریخوالي د زیاتېدو له املې خپلې ژوره اندېښنه څرګندوي او په دې لړ کې، د متحده عربي اماراتو پر ملکي تأسیساتو، په ځانګړي

د پنجوایي دوراهي سړک د دوهم فاز د قیریزي کولو چاري پیل سوې

د پیاوړتیا په موخه، د ښار په اوومه ناحیه کې، د پنجوایي دوراهي سړک د اساسي رغونې چاري روانې دي، چې تېره وړځ یې د دوهم فاز د قیریزي کولو چاري پیل سوې دي. ۴مخ

په دایکنډي کې یوې دیني مدرسې ته ودانۍ جوړې شوې

د دایکنډي ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو د شهرستان ولسوالۍ، د لرګر سیمې په تګاب کلي کې د خلکو په مالي ملاتړ، یوې دیني مدرسې ته د نوې ودانۍ جوړولو چاري پیل سوي دي.

د یاد ریاست د نشراتو مسئول یاسر محقق باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، دغه ودانۍ د دین دوستو او معارف پالو خلکو په مالي ملاتړ، د نهو میلیونو افغانیو په لګښت جوړه شوې.

د هغه په خبره، یاده مدرسه به ۱۲ درسي، ۲ ۴مخ

په خانشین ولسوالۍ کې دوو تنو ماشومانو خپل ژوند له لاسه ورکړ

د چهارشنبې په ورځ، شاوخوا سهار ۹ نهه بجې، د خانشین ولسوالۍ په مربوطاتو کې، ماشومانو یوه زړه مرمۍ پیدا کړې وه، چې په کور کې یې اور ته اچولی، متأسفانه مرمۍ پټاو سوې او پر مهال یې دوو تنو ماشومانو خپل ژوند له لاسه ورکړی چې یو یې لس کلن او بل یې درې کلن و.

همدا راز د یادو ماشومانو مور زخمي سوې چې په عاجله توګه د امنیتي ځواکونو له لورې د بشپړې تداوۍ په موخه، روغتیایي مرکز ته لېږل سوې ده.

د کندهار پوهنتون څخه د شیخ زائد پوهنتون محصلانو لیدنه وکړه

د شیخ زائد پوهنتون محصلانو کندهار ولایت ته علمي سفر وکړ، چې پر مهال یې د کندهار پوهنتون د بېلابېلو برخو د لیدنې ترڅنګ، د کندهار ولایت له بېلابېلو تاریخي او تفریحي ځایونو څخه هم لیدنه وکړه.

وروسته د شیخ زائد پوهنتون استادانو کندهار پوهنتون ته د خپل علمي سفر پر مهال لومړی د یاد پوهنتون له رئیس الحاج شیخ مولوي عبدالرحمن طیبي سره ولیدل

د کندهار پوهنتون رئیس ټولو مېلمنو ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه، الحمدلله! ۴مخ

د مطالبو سرلیکونه

- ځلور امامان؛ قدم په قدم! (ژباړه: مولوي محمد اکبر)
- د عرفې ورځې روژې په اړه... (محمد سلمان "سهیل")
- د ښار دوکانونه یو په بل پسې... (ذبیح الله "اخکزی")
- د مکې قریشو دنعمتونو یادونه (سیعد ویار)

د طلوع افغان خبري (سرلیکنه)

د هیوادونه هڅه؛ له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې ټرونونه ولري!

اسلامي امارت په سیمه کې له فساده خالي او د باور وړ حکومت؛ ګڼ شمېر هیوادونه هڅه کوي، چې له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې ټرونونه ولري.

اسلامي امارت تر بیا واکمنېدو وروسته، په سیمه ییزه او نړۍ واله کچه د خپلو سیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیا هڅه کړې او په دې موده کې ډېرو هیوادونو له افغانستان سره د سوداګرۍ، ترانزیټ، پانګونې، انرژۍ او ډیپلوماټیکو اړیکو د پراختیا له پاره لېوالتیا ښوولې ده.

د دې وضعیت یو مهم لامل دا بلل کېږي، اسلامي نظام هڅه کوي، چې خپل اداري جوړښت د فساد پر ضد، متمرکز او د باور وړ جوړ او معرفي کړي.

په تېرو څو لسیزو کې اداري فساد د افغانستان له سترو ستونزو شمېرل کېدی، داسي ستونزه چې نه یوازې یې اقتصادي پرمختګ زیانمن کړی و، بلکې د خلکو او حکومت ترمنځ یې د باور فضا هم کمزورې کړې وه.

اوس اسلامي امارت باور لري چې د واحدي رهبرۍ، جدي ځار او د فساد په وړاندې د سخت دریځۍ له امله په ګڼو ادارو کې د پخوا په پرتله فساد کم سوی او دولتي چاري منظمې سوي دي.

همدا لامل دی، چې اوس زیات هیوادونه هڅه کوي، له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې اړیکي پراخې کړي.

د سیمې هیوادونه د سوداګرۍ، ترانزیټ، کانونو، کرهڼې، انرژۍ او سیمه ییز اتصال په برخو کې افغانستان مهم ګڼي، ځکه افغانستان د سیمې د وصل یوه مهمه جغرافیه لري.

د رېل پټلۍ، تاپي، کاسا زر، د کانونو استخراج او د ترانزیټي دهلیزونو په ځېر پروژې هغه موضوعات دي چې د هیوادونو پام یې افغانستان ته را اړولی دی.

بل مهم ټکی دادی چې ډېرې هیوادونه اوس هڅه کوي، له افغانستان سره تعامل د سیاسي فشار پر ځای، د عملي همکارۍ له لارې پر مخ یوسي.

په وروستیو کلونو کې د سیمې او نړۍ د بېلابېلو هیوادونو پلاوو کابل ته سفرونه کړي، اقتصادي ناستې سوي او د سوداګریزو همکارۍ په اړه خبرې سوي دي.

دا هر څه ښیي چې افغانستان، سره له نړۍ والو سیاسي اختلافونو، بیا هم د سیمې په معادلو کې مهم ځای لري.

اسلامي امارت باور لري، چې د فساد پر ضد مبارزه، د امنیت ټینګښت او د واحد نظام موجودیت، هغه عوامل دي چې د هیوادونو باور یې زیات کړی دی.

د دوی په آند، کله چې یو حکومت له پراخ فساد، اداري ګډ-وډۍ او داخلي نا امنۍ خالي وي، نو طبیعي ده چې بهرني لوري ور سره اقتصادي او سیاسي اړیکو ته زړه ښه کوي.

په ټوله کې افغانستان اوس د سیمې د اقتصادي او سیاسي بحثونو مهم محور ګرځېدلی او ګڼ هیوادونه هڅه کوي، له دې هیواد سره په بېلابېلو برخو کې اړیکي او ټرونونه ولري.

دا چې دغه بهیر به په راتلونکو کلونو کې تر کومه دوام او پراختیا ومومي، تر ډېره به د داخلي ثبات، اقتصادي مدیریت او نړۍ وال تعامل له څرنګوالي سره تړاو ولري.

بېلابېل موضوعات

څلور امامان؛ قدم په قدم!

لیکوال: عبدالله فاراني (اشتیاق احمدرح) ژباړه: مولوي محمداکبر ۴۳ برخه

امام احمد بن حنبل رحمه الله:

د حنبل په نامه یو سړی د خراسان به مرو سیمه کي اوسېدی، په یو سبب یې خپل وطن پرېښاوه او په ۱۶۴ هجري کال کي بغداد ته راغلی.

بغداد ته د راتګ په وخت کي د هغه په کور کي یو ماشوم پیدا کېدونکی و، خو بغداد ته تر را رسېدو یو څو ورځي وروسته، هغه وفات سو او په ربیع الاول ۱۶۴ هجري کي د هغه په کور کي ماشوم پیدا سو، مور د احمد نوم پر کښېښاوه، دا ماشوم په امام احمد بن حنبل شیباني بغدادي سره مشهور سو.

د امام صاحب مور د شیباني د قبیلې څخه وه، د مور نوم یې صفیه بنت میمونه بنت عبدالماک شیباني وه، مطلب دا چې د امام احمد بن حنبل د مور پلار یا مورنی نیکه عبدالمالک و، هغه د بني شیبان د قبیلې د سردارانو څخه و، په مرو کي عربي قبائل د دوی کور ته راتلل او ده د هغوی ډېر عزت کاوه، د امام صاحب پلار حنبل هم په دې ورځو کي په مرو کي د دوی سره اوسېدی، نو عبدالملک هغه ته خپله لور په نکاح کړه.

مور خپل یتیم ماشوم په ډېر ناز وپالی او په ښه شوق یې زده کړي ورکړې، امام احمد بن حنبل له خپلې مور سره په ډېره مینه مخامخ کېدی، د کوچنیوالي څخه په مدرسه کي په درسونو بوخت و او په هغه وخت کي یې د شرافت، نېک نفسۍ او بزرګۍ مشهور سوی و.

په هغه وخت کي خلیفه په رقه کي اوسېدی، د بغداد امیر او وزیر له هغه سره و، هغوی به خپلو کورنیو ته خطونه لیکل، د هغوی خطونه چې به کله بغداد ته راورسېدل، نو د دې امیرانو او وزیرانو د مدرسې معلم ته حال ورلېږی، چې د خطونو د جوابولو له پاره احمد بن حنبل راواستوي، ترڅو هغه زمور د خطونو جوابونه ولیکي.

امام احمد بن حنبل به هلته راتلی او سر کښته اچولی کښېناستی او په همدې حالت کي به یې د خطونو جوابونه لیکل، یعني سترګي به یې نه را پورته کولې، دا د هغه د ماشوموالي حالت و.

ابو سراج وایي: «زما پلار د امام احمد بن حنبل شرم، حیا او شرافت ته حیران و او ویل به یې، زه د خپلو بچیانو پر ښوونه او روزنه زیاتي پیسې خرڅوم، استاد ورته نیسم چې آدب زده کړي، مګر زه په خپل هدف کي نه بریالی کېږم، بل اړخ ته احمد بن حنبل یتیم هلک دی، مګر د تعلیم په میدان کي څومره په تېزۍ سره مخ ته روان دی.»

امام صاحب د مکتب تر زده کړو وروسته، په ۱۶ کلنۍ کي د حدیثو زده کړه شروع کړه او شروع یې د امام ابو یوسف د درسي حلقې څخه وکړه، نومورې خپله وایي: ما تر ټولو لومړی د ابو یوسف څخه حدیث زده کړل.

امام صاحب د بغداد د استادانو څخه د حدیثو تر زده کړي وروسته؛ کوفه، بصره، مکه، مدینه، یمن، شام، د اباداني جزیره او نورو ځایونو ته سفر وکړ او د هغه ځای د استادانو څخه یې علم حاصل کړ.

د تعلیم په لړ کي چې نومورې کوم سفرونه کړي دي، د هغوی تفصیل خپله بیانوي: «ما په ۱۷۹ هجري کي د علي بن هاشم بن برید څخه د حدیثو علم حاصل کړ، دا زما لومړی کال و، په همدې کال هشیم بن بشیر څخه حدیث واورېدل، بیا په همدې کال د وروستي ځل له پاره عبدالله بن مبارک بغداد ته راغلی، زه د هغه د درس ځای ته ورغلم، نو خبر سولم چې نومورې طرطوس ته ولاړی، په ۱۸۱ هجري کي وفات سو، په دې وخت کي زما عمر ۱۶ کاله و، د هشیم بن بشیر د وفات په وخت کي زما عمر ۲۰ کاله و، په همدې کال حماد بن زید او مالک بن انس وفات سول، زه د هشیم بن بشیر په درس کي تر ۱۸۳ هجري پورې وم او په همدې کال هغه وفات سو او مور د هغه څخه کتاب الحج ولیکی چې زر حدیثونه یې درلودل، د دې پرته د قضا کتاب ځیني تفسیرونه او مختصر کتابونه ولیکل، تقریبًا درې زره حدیثونه مې را ټول کړل. نوربیا...

د عرفې ورځي روژې په اړه یوه علمي څېړنه

محمدسلمان "سهیل"

عرفې ته؛ ولي عرفه وایي؟ آیا په ټوله نړۍ کي یوه عرفه ده؟

د عرفې روژې فضیلت:

په حدیثونو کي د "یوم عرفه" د روژې ډېر زیات فضیلت راغلی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي، د عرفې روژې په نیولو سره د تېر او راتلونکي کال کوچني ګناهونه بخښل کېږي.

آیا د ذوالحجې نهمه "یوم عرفه" ده؟

علماء کرامو د ذوالحجې نهمي ته د "یوم عرفه" نوم ورکولو درې لاملونه ذکر کړي دي:

۱- حضرت ابراهیم علیه السلام د ذوالحجې میاشتي پر اتمه خوب ولیدی چې خپل زوی قرباني کوي، خو شک ورته پیدا سو چې دا خوب د الله تعالی له طرفه دی او که نه؟ په نهمه یې بیا دا خوب ولیدی، اوس یې یقین راغی، چې دا خوب د الله تعالی له طرفه دی، نو د ذوالحجې پر ۹مه ورته دا علم او معرفت حاصل سو، له همدې امله ورته "یوم عرفه" ویل کېږي.

۲- د ذوالحجې په ۹مه ورځ، حضرت جبرائیل علیه السلام، حضرت ابراهیم علیه السلام ته د حج ټول مناسک وښوول، نو د مناسکو د معرفت له امله دې ورځي ته "یوم عرفه" وایي.

۳- په نهمه د ذوالحجې حاجیان د عرفات میدان ته د درېدو له پاره ورځي، نو د دې سبب له مخي، هم دې ورځي ته "یوم عرفه" وایي.

د پورته ذکر سوو قولونو څخه څرګنده سوه، چې "یوم عرفه" نوم په عرفات میدان کي د حاجیانو له درېدو سره خاص نه دی، بلکي د ببلابېلو لاملونو له امله، د ذوالحجې نهمي دوهم نوم "یوم عرفه" دی، بناءً دا ورځ به د هر هیواد د خپل تاریخ پر بنسټ وي، یعني په نورو هیوادونو کي چې کله هم د ذوالحجه نهمه وي، په همدې ورځ به یوم عرفه هم وي، که څه هم په سعودي عربستان کي د عرفې ورځ نه وي.

د اختلاف اصلي منشاء:

د دې مسئلې بنسټ پر دې خبره ولاړ دی چې آیا د سعودي عرب میاشت لیدل، د نورو هیوادونو له پاره معتبر دي او که نه؟ نو د مطالع د اختلاف مسئله، د متقدمینو څخه اختلافي راپاته ده، فقهاوو په دې اړه درې نظرونه وړاندي کړي دي:

۱- یو نظر دادی چې د مطالع اختلاف ته هیڅ اعتبار نسته، یعني که د اسلامي هیوادونو له جملې په یوه کي میاشت ولیدل سي، نو دا لیدنه د ټولو سیمو له پاره بسنه کوي او ټول باید د هماغي لیدنې پر بنسټ، د میاشتي پیل وکړي، دا قول د امام ابوحنیفه رحمه الله څخه منقول دی او په حنفي فقه کي ظاهر الروایة هم همدا قول دی.

۲- نظر دادی چې د مطالع اختلاف هر وخت او هر ځای معتبر دی، یعني هره سیمه به د خپلې لیدنې پر بنسټ، د میاشتي پیل او پای کوي او د بلي سیمي لیدنه د دوی په حق کي معتبره نه ده.

۳- نظر دادی چې په بلاد قریب کي اختلاف مطالع معتبر نه دی او په بلاد بعید کي معتبر دی. علامه زیلعي او صاحب د بدائع دې قول ته ترجیح ورکړې ده.

د ابن عباس رضي الله تعالی عنهما پېښه هم د دې قول تائید کوي، پېښه داسي وه، چې حضرت کریب رضي الله تعالی عنه، ابن عباس رضي الله تعالی عنهما ته وویل، په شام کي د "جمعې" په ورځ میاشت لیدل سوې او په مدینه منوره کي د "شنبې" په ورځ، آیا د شام لیدل، زمور په حق کي معتبر نه دي؟

ابن عباس رضي الله تعالی عنهما ورته وفرمایل:

ژباړه: د هري سیمي اوسېدونکو په حق کي د هغې سیمي لیدل، معتبر دي.

علامه شبیر احمد عثماني رحمه الله تعالی هم په فتح الملهم کي دې قول ته ترجیح ورکړې، مفتي شفیع صاحب هم دا قول غوره بللی او د امام صاحب ظاهر الروایة قول په اړه یې یوه معقوله توجیه دا کړې، هغه یوازي د نژدې سیمو له پاره دی، ځکه پخوا په لیرو سیمو کي د میاشت لیدني خبر نه رسېدی، نو له همدې امله دا قول پر هغو سیمو نه تطبیقېدی، نو درېیم قول "چې په بلاد قریب کي نه دی معتبر او په بلاد بعید کي معتبر دی "راجح سو، هر کله چې دا قول راجح سو، نو د سعودي "رؤیت/لیدل" زمور له پاره معتبر نه دي، ځکه له سعودي سره زمور د مطلع توپیر پرله پسې له مشاهدې ثابت سوی دی، نو ځنګه چې د لمونځونو، تهجد، پېښلمي او افطاري وختونه زمور له پاره جلا دي او له سعودي سره یې یو ځای نه کوو، همداراز د اختر، روژې او قرباني په اړه هم د هر هیواد خپل رؤیت معتبر دی، نو د یوم عرفه د روژې له پاره به هم د هر هیواد د نهمي ذوالحجې ورځ معتبره وي، که څه هم په هغه ورځ په مکه مکرمه کي د لوی اختر ورځ وي.

ځیني هغه دلایل چې باید په هر هیواد کي د هغه هیواد د خلکو رؤیت معتبر سي:

۱- په ځینو حدیثونو کي چې د روژې فضیلت راغلی، نو د یوم عرفې پر ځای، د ذوالحجې نهمي الفاظ راغلي، لکه: له امهات المؤمنین څخه روایت دی چې:

ژباړه: دا روژه اصلاً د نهمي د ذوالحجې ده. د ذوالحجې د لسو ورځو روژو فضیلت، په حدیثونو کي جدا-جدا بیان سوی او معلومه خبره ده، چې د لومړی ورځي څخه تر اتمي نېټې پورې، د هري ورځي فضیلت د هر هیواد د خپل تاریخ مطابق دی، نو همداسي به د نهمي د روژې فضیلت هم د هر هیواد د خپل هجري قمري تاریخ مطابق وي.

۲- که چیرې د میاشتي په لیدو کي، د سعودي عربستان متابعت وسي، نو یوه بله پېچلتیا دا رامنځته کېږي، چې د نړۍ ځیني هیوادونه د سعودي عرب څخه په کالیزه کي مخکې دي، په سعودي کي چې د ذوالحجې نهمه وي، نو هلته ممکن لسمه وي، په لسمه د ذوالحجې اختر وي، که دوی چیرې د سعودي متابعت کوي، نو د اختر په ورځ به روژه نیسي، چې د اختر په ورځ روژه نیول، شرعًا جواز نه لري.

۳- اسلام یوازي د یوویشتمي پېړۍ مذهب او دین نه دی، که څه هم نن-سبا د مخابراتو پرمختللي وسایلو دا ممکنه کړې چې خلک ژر خبر سي، چې په سعودي عربستان کي یوم عرفه کومه ورځ ده، خو پخوا دا اسانتیاوي نه وې او هغه وخت خلکو د "یوم عرفه" روژه د خپل ځای، د ذوالحجه نهمي له مخي نیوله، نو نن یې هم باید خلک د خپل ځای د ذوالحجې نهمي له مخي ونیسي.

۴- د "یوم" اطلاق د لمر ختو څخه تر لمر لوېدو پورې کېږي، خو د روژې وخت بیا د سپېدو له طلوع سره پیلېږي او د لمر په لوېدو پای ته رسېږي، یعني روژه د ورځي تر پیل لږ مخکې پیلېږي. که څوک وغواړي چې د عرفې د ورځي روژه د سعودي عربستان د نهمي ذوالحجې له مخي ونیسي، ځکه چې هلته په همدې ورځ پر عرفات درېږي، نو لازمه ده چې د روژې پیل او پای هم د سعودي له وخت سره سم وکړي، باید د نړۍ په هر ځای کي خلک هغه وخت روژه پیل کړي چې په سعودي عربستان کي د نهم ذوالحجې سهار وي او افطار هم باید هغه مهال وسي چې په سعودي کي لمر لوېږي، خو دا له شریعت سره په ټکر کي ده، مثلاً: که مور یووار د سعودي متابعت کوو، نو باید په پوره معنا متابعت ور سره وکړو.

په افغانستان کي نن-سبا تقریبًا پر درې نیمي بجې سهار کېږي (له دغه وخته روژه پیلېږي) او پنځه بانديي ۷ بجې ماښام کېږي، خو اوس باید مور د سعودي عربستان متابعت وکړو، خو په سعودي کي چې روژه پیلېږي، هغه وخت په افغانستان کي لمر راختلی او یا هم د لمر ختلو وخت وي او په سعودي کي چې ماښام کېږي، دلته نژدې ماخستن وي، نو افغانان که د سعودي متابعت کوي، بیا به د لمر راختلو وخت څخه تر ماخستن لمانځه پورې روژه نیسي، چې دا د نقل او عقل دواړو خلاف ده.

له همدې امله لکه څنګه چې د روژې نور احکام د هر ځای، د لمرختو او لمر لوېدو له مخې ټاکل کېږي، همداسي باید د عرفې روژه هم د هري سیمي د خپل محلي وخت او نېټې (۹ ذوالحجه) له مخي ونیول سي. دا هم شرعاً معقوله ده او هم عملي اسانه.

د ښار دوکانونه یو په بل پسي بندېدل

ذبیح الله "اخکزی"

شپه پخه وه؛ د ښار دوکانونه یو په بل پسي بندېدل!
شور یې کرار – کرار کمېدی، خو لا هم سړکونه د ځوانانو د «لیلام – لیلام» په کلمه او د تازه مېوو په بوی ویښ وو.
زه او نعمان د خپل یو ملګري له واده را روان وو.
هغه واده چې خندا په کښي ډېره وه، خو د زړونو سکونتیا د خوشحالۍ تر سیوري لاندې پټه وه.
د لوړ بیه موټرونو اوږده کاروانونه یو په بل پسي روان وو. هارنونه، ځراغونه او د کېمرو روښانه لینزونه...
چا به ویل:
"دادی اصلي سټایل وګوره؛ ځنګه کاروان روان دی!"
بل به ویل:
"فلاني خو نن ښار وځلاوه، واده دي وي، نو داسي دي وي!"
خو نعمان چې زما تر ځنګ ولاړ و، آرام یې وویل:
– یاره!... دا ټول ښایست دی، خو ژوند بیا بل ځه دئ.
د جادې په منځ کې د ولاړو خادو روښنایي ته د سړک پر درې ګزي یو ۲۳ کلن ځوان چې خړ د اریش کالي یې اغوستي، په شین پوښ کې پېچلی تعویز یې په غاړه ځړېدی، تور فرانسوی بوټ یې په پښه او سپینه اوبدلې خولۍ یې د ګول وهښتانو پر ځنګ پرته وه، د یوې لاسي ګاډۍ تر ځنګ ولاړ و.
په منځ کې د بادرنګو کتارونه یو په پسي پراته ول. په یو زړې ډبې یې اوبه پر پاشلې.
ځاځکي به پر شنو بادرنګو ونښتل، داسي به وایسېدل، لکه: د موټر پر هنداره د باران ځاځکي.
بادرنګو ته به یې نوی ژوند ورکړ.
په آرام ږغ یې بار – بار ویل:
«دادي تازه نامیان بادرنګ؛ لیلام سول، درې په لسي!»
ورنژدې سولم، په زړه کې مې راوګرځېدل:
"کاش... زمور د ژوند ځینې شېبې داسي تازه کېدلای!"
ومې پوښتل:
– ځوانه! ځنګه ده خواري؟
– رخچینه یې پر وښتانو سمه کړله او و یې خندل.
– ښه ده ګذاره مو په کېږي.
تر لږ ځنډ وروسته یې راته وویل:
– تاسو په دې نیمه شپه چیرې ځئ!؟
ما هم په ټوکو کې ورته وویل:
– له واده را روان یو؛ یاره! خو واده ته چې سړی ولاړ سي، خوشحاله سي، خو چې راووځي، فکر ور سره مل سي...
ځوان لږ جدي سو.
بیا یې کرار وویل:
– واده یوازي خندا نه ده، بلکې مسئولیت او باور دی!
ممکن اوس یاد ځوان د فیل په غوږ کې پروت وي، احساسولای «که مو وښتان خېژي، کمزوري سوي وي او یا هم توی سوي وښتان غواړئ، بیا په دوو هفتو کې بیرته راشنه او قوي سي، نو(...) شامپو حتمن کار کړئ.
زمور د اولي نماینده ګې ځخه یې تر لاسه کولای سئ!»
تر لږ خبرو وروسته یې په ټیټ، خو ډاډمن ږغ بیا وویل:
«ما خپله استعمال کړې ده، نتیجه یې حیرانوونکې وه!"
ټکسي چلوونکي او سپاریانو غوږ ورته نیولی و، ویاند تر لږ ځنډ وروسه زیاته کړه:
"که مو پر مخ تورسري، یا ځواني دانې وي او د مخ ښایست مو له منځه تللی وې، نو فلس... کریم استعمال کړئ. په درو ورځو کې بې تأثیر وویني!"
موټروان په هماغه هنداره کې بیا راته وکتل او و یې ویل:
– ځوانه! دا څه وایي؟ خلک یې ببخي صفت کوي.
– شی لا نسته وروره! فقط د خویندو او وروڼو په سترګو کې خاوري ور پاشل دي. کوم ځوان چې دغه خپرونه وړاندي کوي، زما ملګری دی. زه و خدای که پر سر په حساب څو وښتان لا لري، که یې ګټه کولای، نو دی یې خپله ولي نه استعمالوي؟
وې خندل او پر ځنګ ناست ملګري ته یې مخ ور واړوئ:
– هههه نو دی کیسې دي پیرخانې!
په دغو فکرونو کې تر کوره ورسېدلم.
ما لاس جېب ته کړی یو زوړ د شل ګون نوټ مې له جېبه راوکښی، یوه شېبه مې ورته وکتل، لکه: زما د فکرونو غوندي. پیسې مې ورکړې او له ټکسي کښته سولم.
د دروازې د بندېدو پر وخت مې له ځان سره وویل:
"موږ خو ناخبره و... هغه ځوانان چې دا مسئولیت ور په غاړه کېږي، آیا وروسته به دغو کاروانونو ته نه په فکر کې کېږي...؟
شا ته مې یو ځل بیا ښار ته وکتل. د لیري بیا هم داسي معلومېدی؛ لکه د شوره ډک، خو د ننه بیا یو درومند سکوت و. زړه مې راته ویل:
"موږ ډېر کله د کاروانونو شور وینو، خو د ژوند چوپتیا نه وینو."
او کله – کله تر ټولو لویه تېروتنه دا وي، چې موږ د یوې شپې ښکلا، یا د ورځې څو دقیقې نمایش د ټول عمر حقیقت وبولو.

د مکې قریشو ته د نعمتونو یادونه

سعید ویاړ

متعال خدای چې کله د مکې قریشو ته د خپلو نعمتونو یادونه کوله، نو دوه لوی نعمتونه یې ورته ذکر کړل.
د مکې مځکه لکه څرنګه چې د زراعت له پاره مهیا نه وه او په نړۍ کې د ببرې او وحشت ټغر هوار و، نو الله تعالی د مکې قریش په دوو داسي نعمتونو ونازول چې دوی یې په وړاندي د تصور کولو څخه عاجز ول.
الله تعالی د خپل نازولي پیغمبر ابراهیم خلیل الله د هغې دعا د اجابت له کبله چې هغه د مکې تر تعمیر وروسته کړې وه، چې:
خدایه! دا ښار د امن ښار وګرځوې او د دی ښار وګړو ته رزق ورکړې.
الله تعالی د مکې ښار د همدې بیتې له کبله، په داسي ښار بدل کړ، چې هلته هیچاته د سر او مال اندېښنه نه وه او د امن له پاره لا مثاله ښار وګرځېدی، د مکې ښار یې د وګړو له پاره له خوراکي پلوه یو مرکز جوړ سو او هلته به له یمن او شامه د راوړلو سوو اجناسو له پاره بازارونه لګېدل.
د دې نعمتونو تر یادولو وروسته، خالق لایزال قریشو ته د شکر ادا کولو لارښوونه کوي چې الله تعالی د سورة قریش په درېیم نمبر آیت کې فرمایي:
ژباړه: نو هغوی ته ښایي چې د دې کور (کعبې) عبادت وکړي.
مفسرین لیکي چې تخصیص د رب البیت یې له ځه کبله کړی دی.
وایي الله پاک چې د مکې پر قریشو دا دوه لوی نعمتونه کړي وو او دا نعمتونه یې تر دوی پورې خاص کړي وو، د دې له پاره سرچینه همدغه بیت الله وه، نو ځکه یې وفرمایل چې د رب البیت عبادت وکړئ.
دا آیتونه که د نزول له نګاه ۱۴۰۰ کلن تاریخ لري، خو په عین وخت کې موږ تاسو ته هم خطاب دی، چې نعمتونه مې درکړي دي، د دې نعمتونو په پایله کې زما شکر ماته په عبادت سره ادا کړئ!
الله تعالی دي موږ د ښه شکر ادا کولو توفیق رانصیب کړي!
معارف القرآن سره له زیادتونو

شعري برخه
د طلوع رنګینې وړانګې

غزل

نوراحمد قرآن مل

تړمي سولې اوښکي ستا د یاد په حضر نه راځې
وه ګران بابکه ته خو بیا په هنر نه راځې

ستړې د ژوند لاره په خندا د ژوند ترخې زغم
زور د اندېښنو دی د هر وار پر محضر نه راځې

تیت پاشان تصمیم رنګ د مانبام د مشالو پیکه
وه زما سالاره بیا په ژوند کې رهبر نه راځې؟

لاس ګرېوان د ژوند لوړې ژوري لاروی ستړې
ګرځم پر مدار د دایرې تر سحر نه راځې

ستا د قبر شنختي دواړې سترګې پر ګنډلې سې
ستا د یاد و ځلې یو یو شمارتر پسر نه راځې

ومې لوست قرآن سهار مهال بس ستا د روح په خیر
یاد د "قرآن مل" د سر سایوانه پر سر نه راځې

نه لري

وصال خوشامندوال

هو دلته ډېر ماشومان پلار ښځي خاوند نه لري
خو له مور پرته ځوک په دې نظام کې ژوند نه لري

اختر یې ګرم ضمیرونه یې ببخي ساړه دي
ځوک چې د وخت اړتیا توپک او کمربند نه لري

هغه ملت خو نو هر وخت د مرګ په خوب بیده سي
ځوک چې ویښ خوب د آزادۍ په پاک مړوند نه لري

سپین استقلال سپین امارت او سپین طالب حاکم ده
دې سپین هیواد کې به نو ولي اختر خوند نه لري

هیڅ ډېره نسته په هیواد کې خوشحالي خپره ده
هیڅ حقیقت دا دښمن پروپاګند نه لري

اختر یاران او آزادي "خوشامندوال وصاله!"
دومره خوږوالی به بیا شات نه لري قند نه لري

نوی غزل!

احمد خاطري

د اسلامي تاریخ د پاڼو نوی باب دی امیر
د هر عمر پر لار روان هغه جناب دی امیر

د سپینو ستورو امامت ته غوره کړی مولی
د جهادي آسمان اُفق لره آفتاب دی امیر

پردي دودونه، قوانین به سم له ډېخه باسي
د اسلامي فکر عجیب مهم کتاب دی امیر

شر القرون کې یې نظام خیر القرون ته ورته
شکر او حمد دي وي هبة د لوی وهاب دی امیر

د شریعت او سیاست ورباندي ښه تمامه
د یو تطبیق، د بل جوړښت لره نایاب دی امیر

تر شا دې ودرېږي ملت د "خاطري" دي واوري
د خپلواکۍ روح، د امت آبرو و آب دی امیر

مسئول مدير: بريالی "فيضي"
د تصحيح مسئول: حاجي عبدالله "ذاکري"
کمپوز او ډيزاين: نصير احمد "صابر"
د مديريت شمېره: ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزيع مديريت شمېره: ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پته: علامه حبيبي واټ–اطلاعات او فرهنګ رياست
د برېښنا ليک پته: baryafaiz981@gmail.com

د ګډون کوونکو له پاره خبرتيا!

د طلوع افغان تاريخي ځېرونه چې د هيواد په مطبوعاتي تاريخ کې خانګړی خای لري. که غواړئ چې د لمريزکال په آخرکې د طلوع افغان تاريخي ورځپاڼي يو بشپړ کلکسيون ولری، په طلوع افغان ورځپاڼه کې ګډون وکړئ.

د ګډون کلنی بيه ۵۰۰- پنځه سوه افغانی، زده کوونکو او محصلينو ته د تصديق په وراندي کولو سره نيمه بيه تاکل سوې ده. اداره

Tola-e Afghan Journal

طلوع افغان مديريت له ټاکلي ليکنيز معيار سره سم، دليکنو په اصلاح کي د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هيله کېږي، چې دا سپېڅلي پاڼي بې ځايه و نه غورځوئ!

Founded in 1921 | ISSue:12 | Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتياوي

کور خرڅوي

يو درېندرهايشي کور چې مساحت (۱۲۰۰) مترمربع دی، چې د کندهار ښار په پنځمه ناحيه، د انصاري مېنې په ساحه کې موقعيت لري، چې د درو رهنمايانو له لوري في متر مربع قيمت (۱۲۹۷۱) افغانۍ چې مجموعي مبلغ ۱۵۵۶۶۰۰۰/۰ پنځلس ميليونه پنځه سوه او شپږ شپېته زره افغانۍ قيمت سوی دی.

هر هغه ځوک چې يادرهايشي کور تر پورته ذکر سوي قيمت په اضافه نرخ غواړي، خپل غوښتنليکونه تر لسو ورځو پوري د کندهار مرافعه محکمې له خوا، تعين سوي هيئت ته وسپاري او يا دي پر ذکر سوې شمېره اړيکه ونيسي: 0704612031

ګدام خرڅوي

يو باب ګدام چې مساحت يې (۶۵۰) مترمربع دی، چې د کندهار ښار په پنځمه ناحيه، د ښورانداد پارک په ساحه کې موقعيت لري، چې د درو رهنمايانو له لوري في متر مربع قيمت (۱۴۳۷۵) افغانۍ چې مجموعي مبلغ ۹۳۴۴۰۰۰/۰ نهه ميليونه دري سوه ځلور ځلوېښت زره افغانۍ قيمت سوی دی.

هر هغه ځوک چې يادګدام تر پورته ذکر سوي قيمت په اضافه نرخ غواړي، خپل غوښتنليکونه تر لسو ورځو پوري د کندهار مرافعه محکمې له خوا، تعين سوي هيئت ته وسپاري او يا دي پر ذکر سوې شمېره اړيکه ونيسي: 0704612031

په اجاره يې ورکوي

دارغنداو ښاروالي غواړي چې خپل ملکيت دري بابه دانارو باغچې د درو کلونو له پاره د داوطلبۍ په ذريعه، په اجاره ورکړي. هر ځوک چې يې غوښتونکي وي، خپل غوښتنليکونه دي د روان ۱۴۰۵ ل کال د غويي مياشتي داووه ويشتمي نېټې څخه بيا د غبرګولي مياشتي تر شلمي نېټې پوري، دارغنداو ښاروالي ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، لس سلنه تضمين نغداً اخيستل کېږي او د داوطلبۍ مجلس، د روان کال د غبرګولي مياشتي پر يوويشتمه نېټه، د پنجشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، په ارغنداو ښاروالي کي ترسره کېږي.

يادونه: هرځوک چې په داوطلبي کي ګډونکي سول، ګټونکی شخص به په ضمانت کي يو شخص د تضمين په ډول راولي.

په کرايه يې ورکوي

د کندهار پوهنتون اړوند، يو باب د پرچون غرفه چې د کندهار پوهنتون اړوند کدري روغتون په داخل کي موقعيت لري، هر هغه ځوک چې يادە غرفه د درو کلونو له پاره د کرايې په ډول غوښتونکي وي، خپل غوښتنليکونه دي د ۱۴۰۵ ل کال د غويي مياشتي د ۲۶ نېټې څخه بيا د روان کال د غبرګولي مياشتي تر پنځمي نېټې پوري، د لسو ورځو په موده کي د کندهار مستوفيت رياست، د امارتي املاکو عمومي مديريت ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، د يوه کال تضمين نغداً اخيستل کېږي او د يادي داوطلبۍ آفرونه د روان ۱۴۰۵ ل کال د غبرګولي مياشتي پر پنځمه نېټه، د چهارشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې د تعين سوي هيئت په حضور کي د امارت املاکو په عمومي مديريت کي پرانيستل کېږي.

دورکي اعلانونه

څه وخت وړاندي د عينو مېنې د ملکيت يو سند چې د جمال الدين اميري د امير محمد د زوی په نامه دی، د ملکيت نمبر يې (94)، موقعيت (C2-47) او د فايل نمبر (987) ورک سوی دی. هر چا که پيدا کړی وي، دافکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او يادي د ټيليفون په دې شميرو تماس ونيسي: 0703102005 – 0700305088

❁❁❁

څه وخت وړاندي د عينو مېنې د ملکيت يو سند چې د خپلواک روښان د عبدالواسع روښان د زوی په نامه دی، د ملکيت نمبر يې (101)، د موقعيت (C2-14) او د فايل نمبر (21292) ورک سوی دی. هر چا که پيدا کړی وي، دافکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او يادي د ټيليفون په دې شميرو تماس ونيسي: 0702652701 – 0700305088

❁❁❁

څه وخت وړاندي د عينو مېنې د ملکيت يو سند چې د نورالله دوست د خير محمد دوست د زوی په نامه دی، د ملکيت نمبر يې (150)، موقعيت (A2-12) او د فايل نمبر (9442) ورک سوی دی. هر چا که پيدا کړی وي، دافکو کمپنۍ د فروشاتو دفتر ته دې ور وړي او يادي د ټيليفون په دې شميرو تماس ونيسي: 0700333336 – 0700305088

❁❁❁

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د بلال احمد د شېر احمد د زوی او د سراج الدين د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيدا کړي وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0709047962

په قرارداد يې ورکوي

د ډۀ ښاروالي غواړي چې خپل ملکيت مربوط، د حوض مدد د اهلي حيواناتو ګنج، د داوطلبۍ په ذريعه، د يو کال له پاره په قرارداد ورکړي. هرځوک چې غوښتونکي وي، خپل غوښتنليکونه دي د روان ۱۴۰۵ ل کال د جوزا مياشتي د دوهمي نېټې څخه بيا د روان کال د همدې مياشتي تر دوه ويشتمي نېټې پوري، د ډۀ ښاروالي ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، تضمين شل سلنه نغداً اخيستل کېږي او د داوطلبۍ مجلس د روان کال د جواز مياشتي پر ۲۳ نېټه، د شنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعين سوي هيئت په حضور کي، د ولايت مقام، په اداري او مالي رياست کي ترسره کېږي.

يادونه: هر هغه ځوک چې په داوطلبي کي ګډون کوي، بايد په ضمانت کي د دوو معتبرو ظرفيت لرونکو اشخاصو تضمين له ځانه سره ولري.

(۱) مخ پاڼه: د پنجوايي دوراهي سړک د دوهم...

يادسړک ۱۱۰۰ مترە اوږدوالی او ۱۱ مترە پلنوالی لري چې د لومړي فاز ټول انکشافي کارونه يې څو مياشتي مخکې بشپړ سوي او دا مهال يې د دوهم فاز د قيريزی کولو چاري پيل سوي دي.

ټاکل سوې ده چې د يوې اوونۍ په موده کي به يې د دوهم فاز پاته چارو تر بشپړ ېدو وروسته به يادسړک ډېرژر د ترافيکو پر مخ خلاص سي.

د يادسړک د دوهم فاز د رغنيزو چارو له لاري دا مهال ۴۰ کسانو ته په فني او غير فني برخو کې کاري زمينه برابره سوې ده.

(۱) مخ پاڼه: د کندهار پوهنتون څخه د شيخ...

اسلامي امارت د علم پرمختګ ته ځانګړی پام کوي او تاسو په پوهنتونونو کي د دې پرمختګ عملي شاهدان ياست.

د افغانستان اسلامي نظام په راتګ سره او د علماء کرامو په هڅو، د پوهنتون او مدرسې ترمنځ، فاصله له منځه تللې، نو اوس موږ او تاسو ته په کار داده، چې دغه محصلان په عصري او ديني علومو لا ښه وروزو.

وروسته د عامه پوهاوي او اړيکوآمر نذير احمد قادري د کندهار پوهنتون د پېژندنې په اړه سېمينار ورته وړاندي کړ او راغلو محصلانو د کندهار پوهنتون له علامه حبيبي کتابتون، دارالصالحين ليليې، مسجد او ځينو نورو برخو څخه ليدنه وکړه، د يادو مرکزونو مسئولانو هر اړخيز معلومات او له خپله اړخه د هر راز همکاريو ډاډ ورکړ، چې ورپسې محصلانو د کندهار ولايت له تاريخي او تفرېحي سيمو لکه: ارغنداو، چهل زيني، ملي موزيم، عينومېنه او نوري ېبلا ېبلو تفرېحي او تاريخي ځايونو څخه هم ليدنه وکړه او په اړه يې معلومات ترلاسه کړل.

د علمي سېر په پای کي د شيخ زائد پوهنتون محصلانو او استادانو د کندهار پوهنتون د رهبری له مېلمه پالنې او همکاری کولو څخه ځانګړې مننه وکړه.

(۱) مخ پاڼه: په دايکنډي کي يوې دينې...

اداري او يوه تحويل خونه ولري او ټاکل سوې ده، چې دغه پروژه به، د روان کال تر پايه پوری بشپړه او ګټې اخيستنې ته وسپارل سي.

د يادونې وړ ده چې يوه اوونۍ وړاندي هم، د يادولايت د پاتو ولسوالی د خچوزي کلي اوسېدونکو، د يوې بلې ديني مدرسې، د جوړولو چاري پيل کړي وې.

په اجاره يې ورکوي

۱– دکندهار د ۲۰۵ البدر قول اردو اړوند، موازي (۲۸۱۶) متره مربع زراعتي مځکه چې د ډنډ ولسوالۍ په کشاپي کلي کي موقعيت لري، د اجارې له پاره ځانګړې سوې ده.

۲– دکندهار د ۲۰۵ البدر قول اردو اړوند، موازي (۶۴. ۴۳) جريبه زراعتي مځکه چې د ډنډ ولسوالۍ په کشاپي کلي کي موقعيت لري، د اجارې له پاره ځانګړې سوې ده.

۳– دکندهار د ۲۰۵ البدر قول اردو اړوند، موازي (۲۰) جريبه زراعتي مځکه چې د ډنډ ولسوالۍ په کشاپي کلي کي موقعيت لري، د اجارې له پاره ځانګړې سوې ده.

۴– دکندهار د ۲۰۵ البدر قول اردو اړوند، موازي (۲۴) جريبه زراعتي مځکه چې د ډنډ ولسوالۍ په کشاپي کلي کي موقعيت لري، د اجارې له پاره ځانګړې سوې ده.

۵– دکندهار د ۲۰۵ البدر قول اردو اړوند، موازي (۵۰) جريبه زراعتي مځکه چې د ډنډ ولسوالۍ په کشاپي کلي کي موقعيت لري، د اجارې له پاره ځانګړې سوې ده.

۶– دکندهار د ۲۰۵ البدر قول اردو اړوند، موازي (۵۰) جريبه زراعتي مځکه چې د ډنډ ولسوالۍ په کشاپي کلي کي موقعيت لري، د اجارې له پاره ځانګړې سوې ده.

۷– دکندهار د ۲۰۵ البدر قول اردو اړوند، يو پيک ۱۱ بابه دوکانونه د ډنډ ولسوالۍ په کشاپي کلي کي موقعيت لري، د کرايې له پاره ځانګړې سوې ده.

۸– ۵– دکندهار د ۲۰۵ البدر قول اردو اړوند، موازي (۵۰) جريبه زراعتي مځکه چې د ډنډ ولسوالۍ په کشاپي کلي کي موقعيت لري، د اجارې له پاره ځانګړې سوې ده.

هر هغه ځوک چې يادملکيتونه د درو کلونو له پاره د اجارې او کرايې په ډول غوښتونکي وي، خپل غوښتنليکونه دي د روان ۱۴۰۵ ل کال د غويي مياشتي د ډېرشمي نېټې څخه بيا د همدې کال د غبرګولي مياشتي تر دوولسمي نېټې (۱۰) په موده کي د کندهار مستوفيت رياست د املاکو لوی مديريت ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي، د يوه کال تضمين نغداً اخيستل کېږي او د يادي داوطلبۍ آفرونه د روان کال د غبرګولي مياشتي پر ۱۳ نېټه، د چهارشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعين سوي هيئت په حضور کي، د امارتي املاکو په عمومي مديريت کي تر سره کېږي.

دورکي اعلان

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د نجيب الله حيدري آغا د عصمت الله د زوی او د حميدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيدا کړي وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0700252739

❁❁❁

يوه قطعه برېښنايي تذکره چې د حکمت الله د حيات لله د زوی او د ملا عبدالله د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پيدا کړي وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونيسي: 0703634771

ضروري يادوني

يادوني: د طلوع افغان اخبار د ۱۴۰۵ ل کال په ۶ ګڼه کي دا ناسټو پوهنتون په اعلان کي سهواً د پنجشنبې پر ځای، دوشنبه ليکل سوې ده. هيله ده چې په (پنجشنبه) تصحيح کړل سي او همداراز په ۸ ګڼه کي د يادپوهنتون داعلان عنوان د تخنيکي ستونزي له امله د (قرارداد کوي) پر ځای د (ټولو قراردادکوي) نشر سوی، هيله ده چې په (قرارداد کوي)، تصحيح کړل سي. اداره

ټولنيزي رسنۍ

ابو وحيدالله "عمري":

زړه څه وخت روغ پاته کېدای سي؟

امام ابن العربي رحمه الله ويلي: هغه زړه سالم (روغ) نه سي پاته کېدلای، په کوم زړه کي چې کينه، حسد، بغض، ځان خوښي او تکبر موجود وي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم د کامل ايمان له پاره دا شرط ايښی، چې مسلمان بايد د خپل بل مسلمان ورور له پاره هغه څه خوښ کړي، چې د خپل ځان له پاره يې خوښوي.

(أحکام القرآن ج۳ ص۴۵۹)

Abid Agha Hashimi:

له غروره ځان وساتئ!

ځکه هر ځوک چې د غرور پر نيلي سپور سي، حتمًا به يې يوه ورځ پښې له رقابه خطا کېږي.

پوهنمل ډاکټر فضل حليم "عرب زی":

– تر ټولو غوره ځښاک دري لېټره اوبه دي.

– تر ټولو غوره د تمرکز درمل اته ساعته خوب دی.

– تر ټولو غوره ذهني سکون هغه ورځ ده چې له سکرين کتلو پرته تېره سي.

– تر ټولو غوره درملنه، له خپلو عزيزانو سره وخت تېرول دي.

– تر ټولو غوره درملنه، د خپګان ضد درمل، ۴۵ دقيقې ورزش دی.

سيف مذهبي:

د هندوانې د خوړلو وخت؛

په زادالمعاد کي ابن القيم رحمه الله فرمايي:

په هندوانه کي صفايي سته او دا تر بادرنګو ډېرژر له معدې کښته کېږي.

مناسبه داده چې هندوانه تر خوراک مخکي وخوړل سي او وروسته نور خواړه پر وخوړل سي، ګڼې نو معده خرابوي، د زړه بدوالی او کانګي پيدا کوي.

ځينو طبيبانو ويلي دي:

که هندوانه تر خوراک مخکي وخوړل سي، نس ښه پاکوي او د ناروغۍ ريښه له منځه وړي!

زادالمعاد (۱۷۵/۳)

Khalid Danishyar:

پيل له کوچنيو تجربو؛ په اصل کي د لويو فرصتونو دروازې خلاصول دي!

Muhtamim Salih:

جاهد صاحب ليکي:

اصيل انسان که ذليل هم سي؛ خو رزيل کېږي نه!

mirwali Jan Ikanwall Afhan:

له هغو کسانو واټن واخلئ چې ستاسو په اړه زيات معلومات غواړي، خو د ځان په اړه در سره هيڅ نه شريکوي.

نصير احمد "پتمل":

خپلي کورنۍ ته د لمانځه توصيه وکړه او په خپله هم د هغه پابند واوسه!